**بسم الله الرحمن الرحیم**

# کووېډ-۱۹؛ ایا د امریکا لیبرال نړیوال نظم په ختمېدو دی؟

**خبر:**

په دې وروستیو کې د پیسو نړیوال صندوق له لوی رکود ( The Great Depression یا د امریکا تر ټولو لوی اقتصادی رکود چې په ۱۹۳۰م کال کې و. ژ) وروسته د تر ټولو ناوړه اقتصادي رکود وړاندوینه کړې. د دغه صندوق مشرې، کرېسټالینا جورجیوا وویل: «موږ له لوی رکود وروسته د تر ټولو ناوړه اقتصادي رکود وړاندوینه کوو». دا ارزونه د اروپایي ټولنې کمېسیون شریکه کړې :« له لوی رکود وروسته بې ساري ټکان». دا ډول خبرداري د پام وړ پوښتنې را ولاړوي چې ایا غرب له یوه لوی اقتصادي ناورین سره مخ دی یا ښایي د رکود په وروستي حد کې وي.

**تبصره:**

ډېری خلک پر دې اند دي چې غرب په ډېر لوی اقتصادي ناورین کې دی. یوازې یو څه زور غواړي چې وضعیت یې د ۱۹۳۰م کلونو له

اقتصادي رکود څخه هم ناوړه شي. په هر صورت ځینې واړه، خو د ودې په حال کې نظرونه شته چې ښيي ان د کوویډ-۱۹ له اغېز وړاندې د غربي تمدن او واک وروستۍ سلګۍ وې.

په ۱۹۹۷م کال کې د ویلیم سټراس او نیل هوې په نومونو دوو تاریخپوهانو په خپل کتاب ( The Fourth Turning: An American Prophecy) کې ادعا وکړه چې امریکا به په ۲۰۰۸ شاوخوا کلونو کې د ناورین یوه داسې پړاو ته ننوځي چې اورج به یې په ۲۰۲۰م کال کې وي. د کنېکټیکټ پوهنتون یوه تکاملي انټروپولوجېسټ، پیټر ټورچین په خبره؛ په نړۍ کې هرې دوې درې پېړۍ د یوه نامذهبي کشمکش دوران کېږي چې د نړۍ حالت ورسره بدلېږي. ځکه چې د لابراتوار ډېرې سرچیني غواړي او د څو ډېرو شتمنو او اکثریت خلکو تر منځ د شتمنۍ نابرابري زیاتېږي. ورپسې د ځانګړو ډلو تر منځ خپلمنځي جګړې راغوټېږي او د بېوزلو بدبختي لا پسې ډېرېږي. په دې وخت ټولنه یوه ویجاړوونکي فاز ته داخلېږي او له منځه ځي. ټورچین همداراز د یو لنډ، ۵۰ کلن دوران په اړه هم وایي چې زیان یې تر لومړي هغه کم نه دی. د امریکا د تاریخ په اړه د ده د څېړنو پر اساس، ټورچین په ۲۰۱۰م کال کې وړاندوینه کړې چې راتلونکی لنډ دوران په ۲۰۲۰ کې رارسېږي، خو

دا ځل دا دوران یا سایکل له اوږده دوران سره په یوه وخت دی او د یوه بې سابقې هرج او مرج او بې نظمۍ سبب کیږي.

د خوندیتوب په برخه کې د پانګونې کوونکي بنسټ څښتن او بیلیونر، رې ډالیو، ټورچین ته ورته تیورۍ ته پرمختګ ورکړی، دی دغې تیورۍ ته د اوږدې مودې پور دوران وایي. د ده په اند، دغه دوران په ۵۰-۷۵ کالو کې راځي او څلور مهمې ځانګړنې ښیي: د نوښتونو ډېربښت، په داخل کې د سیاسیونو ژور پاشل کېدل، د دولتونو تر منځ د مکارۍ کمېدل او د یوه چلنجر یا ګواښوونکي راپورته کېدل. د دغه دوران وروستۍ بېلګه په ۱۹۵۴ کې پای ته ورسېده، هغه وخت چې لوی رکود جرمني دې ته وهڅاوه چې د برېتانیا نړیوال نظم وګواښي.

بریتانیا جګړه وګټله خو ځای یې امریکا ته پرېښود چې د برېټان ووډز هوکړه لیک (Bretton Woods Agreements) پر بنسټ یو نوی سیاسي او اقتصادي نظم تاسیس کړي. د ډایلیو په خبره، ۲۰۲۰م کال د دغه دوران پای دی او دا د چین په رهبرۍ د نړۍ د نوي اقتصادي بیا جوړېدو سبب کېږي. له ټورچین او ډالیو مخکې اوسوالډ سپېنګلر په ۱۹۲۲م کال کې د غربي تمدن د مرګ وړاندوینه کړې او یادونه یې کړې ده چې غرب یې د خپل عمر ژمي ته داخل شوی.

پورتنۍ تیورۍ باید خلک فکر ته وهڅوي چې له دغه کوویډ-۱۹ چاپېریال وروسته څه غواړي. له دغې وبا مخکې، اهل تفکر باید ځینو خبرو ته پام کړی وي چې د امریکا نړیوال نظم يې گواښلی. لکه فوق نشنلېزم افکار، داخلي ملاتړو ته د نړیوالو منابعو راگرځېدل، د سیمه‌ییز والي له لوري د نړیوالتوب ځای نیول، د یوه اړخ د پیاوړي کېدو پر ځای دوه اړخیزې اړیکې؛ د نړۍ په کچه د شتمنۍ د نابرابرۍ ډېروالی، په ځانگړي ډول په پرمختللو اقتصادونو کې؛ د اقتصادي ودې لپاره د نامنظمو لارو ناکامي، د نړۍ په کچه د پورونو زیاتېدل او د امریکا د لیبرال نړیوال نظم د راپرځېدو په اړه د نړیوالو بنسټونو خبرداري.

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ إِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ﴾**

**ژباړه:**«د هر امت لپاره د یوه مهلت موده ده، کله چې دا موده پوره کېږي، نو یو ساعت وروسته والی او مخکې والی به هم نه وي.»[یونس:۴۹]

ځینې تمدونونه پورته کېږي او له منځه ځي، په داسې حال کې چې نور یې په بشپړه توګه له منځه تللي وي. همدا شان، یو ملت ښایي یوازې د دې لپاره د نړۍ واکدار دولت کېدو لپاره راپورته شي چې د دغې نړۍ فریب او چل ته تسلیم شي او تیارې ته ولوېږي. هوښیار او باخبره مسلمان هغه دی چې د نړۍ وضعیت په ځیر وګوري، په دې اړه ځان په هر څه پوه کړي او موکه پیدا کړي چې مسلمه امت خپل اصلي ځای، د بشریت رهبرۍ ته ورسوي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ﴾**

**ژباړه:**« اوس په نړۍ کې هغه غوره ډله تاسې یاست چې د انسانانو د لارښونې او اصلاح لپاره منځته راوړل شوې ده، تاسې د نېکۍ امر کوئ او له بدو منع او پر الله ایمان لرئ.»[آل عمران:۱۱۰]

په حقیقت کې کوویډ-۱۹ دا موکه برابره کړې چې اهل قدرت له غربي استعمارګرو قدرتونو واک واخلي او راشده خلافت تاسیس کړي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾**

**ژباړه:**« اې ایمان راوړونکو! د الله او د هغه د پیغمبر بلنې ته لبیک ووایئ چې کله پیغمبر تاسو ته د هغه شي په لوري بلنه درکړي چې تاسو ته ژوند ښښونکي دي. او وپوهیږئ چې الله د انسان او د هغه د زړه تر منځ حایل دی او د هماغه لوري ته به تاسو ورغونډ کړای شئ »[انفال:۲۴]

# د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

# عبدالمجید بهاتي